مسعود عمر

۲۰۱۲/۰۹/۲۴

# افغانستان کرکټ؛ ستونزې او حل لارې

کله چې څو کاله مخکې افغان کرکټ لوبډلې په آسيايي سياليو کې لومړی مقام تر لاسه او ورپسې نړۍ والو لوبو ته د غوراوي په سياليو کې له جرسي لوبډلې څخه د لوبې په ګټلو سره، د پنځم دېوېژن سيالو کې لومړی مقام تر لاسه کړي، ډېرو دوستانو داسې فکر کاوه چې افغان کرکټ لوبډله کولای شي په ډېره لږه موده کې وده وکړي او د نړۍ په کچه به سيالۍ تر سره کړي، چې همداسې هم وشو. که څه هم کرکټ لوبډله له مالي پلوه ډېره خواره وه او حتا په سياليو کې به يې ځانته خپله ديګ کاوه او چپس به يې خوړل؛ خو د افغانستان لپاره يې په څلورم، دريېم، دويم دېوېژننو کې يې پر له پسې اتلولۍ وګټلې او د لومړي دېوېژن په سيالو کې يې له سترو لوبډلو لکه، هالند، کنيا او ايرلند سره لوبې وکړي؛ اما له بده مرغه چې نړۍوالو لوبو ته يې لاره پيدا نه کړه؛ خو د يو ورځنيو سيالو حق يې تر لاسه کړ. دا هغه هڅې وې چې د لومړي ځل لپاره يوه لوبډله يې د افغانستان لپاره کوي، په سلګونه زره هېوادوال ورته خوشاله ول او تل به يې د راډيو ګانو له لارې د کرکټ په هکله خبرونه څارل، خوشالي او دعاګانې به يې ورته کولې.

له هغې مودې را پديخوا تل کرکټ لوبډلې د خلکو په زړونو کې ځای موندلی او هرې بريا ته يې خوشالېږي او له هرې ماتې وروسته پريشانه اوخپه دي ته وا سر له سبا افغانستان کرکټ له منځه ځي، شايد لامل د ډېرې مينې له وجې وي. ټول دوستان پوښتنې کوي ولې داسې وشول؟ ولې په هغه وخت کې چې ددې شونتيا وه چې افغان کرکټ لوبډله له هندوستان څخه لوبه وګټي ورته وې بايلوده، ولې افغانستان کرکټ لوبډله د انګلستان پر وړاندې په ډېرې آسانۍ سره له مخې پورته شوه؟ دا هغه پوښتنې دي، چې هڅه شوې تر يوې کچه پرې خبرې وشي.

په سره کې خو لکه، ځينو دوستانو نه غواړم د کرکټ بورد له پخوانيو او يا هم له اوسنيو چارواکو څخه ملاتړ او يا يې هم بد ووايم، ددې لپاره چې نه يوازې پخواني کسانو کرکټ ته کار ونه کړ؛ بلکې اوسنيو يې هم څه نه دي کړي او لياقت يې هم نه لري. دلته يوازې غواړم دا ووايم چې څه بايد وشي؟ څرنګه کولای شو خپل کرکټ له هغه ناورين څخه چې اوسمهال کنيا، هالند او په پياوړو لوبډلو کې زمبابوې ورسره لاس او ګرېوان دی، افغانستان ورسره مخ نه شي؟ هغه ډول چې په دې ورستيو مياشتو کې ليدل کېږي افغان کرکټ لوبډله د تېرو کلنو په پرتله پکې ډېر بدلون نه دی راغلی، حتا زه ويلی شم، چې تر دوو کلنو مخکې په ډېرو برخو، له هغې ډلې په توپ نيونه ( فيلډنګ) او توپ وهنه ( بېټ انګ) کې لا ضعيفه شوې ده، د ۲۰۱۰ زېږدي کال د ۲۰ اوريزو نړۍوالو لوبو په غواري کې مو ايرلندته سخته ماتې ورکړه؛ خوا دا ځل يې موږ ته سخته ماتې راکړه. هغه ډول چې مو په ۲۰۱۰ زېږدي کال شل اوريزو لوبو کې له سوېلي افريقا څخه ماتې وخوړه په همغه شان مو له انګلستان څخه ماتې ومنله.

ولې داسې وشول؟ څه بايد وشي، زه فکر کوم په سر کې افغانستان دې ته اړتيا لري، چې په کرکټ بورډ کې اصلاحات راولي او هغه صادق کسان چې له وطن او کرکټ سره مينه ولري بايد پر دندو وګارل شي. تر ټولو ښه به دا وي چې د ملي ټيم له پخوانيو لوبغاړو څخه کار واخيستل شي، ددې لپاره چې هغوی کولای شي په مينې سره دا دنده پر مخ بوځي.

دويم، دا چې افغانستان کرکټ لوبډله نشي کوالی لکه، کبير خان غونډې کس يې روزونکی وي، ددې لپاره، چې کبير خان هغه څوک نه دی چې افغانانو ته کرکټ وښيي، اما له بده مرغه زموږ د کرکټ بورډ ځينو نا اهلو کسانو داسې فکر کاوه چې ګواکې، ده پاکستان لوبډلې سره لوبه کړې، همدې لپاره به افغانستان لوبډلې لپاره به ښه وي، په داسې حال کې، چې خپله کبير خان د يوو توپ اچوونکي ( باولر) په توګه پاکستان لوبډلې لپاره يوازې ۵ ټيست سايلۍ او ۱۰ يو ورځنې لوبې کړې دي، چې دومره ښه هم نه دی ځلېدلی. کبير خان د پاکستان لوبډلې، نه يوازې له لومړې درجې لوبغاړو څخه و؛ بلکې له دويمې او دريېمې درجې لوبغاړو څخه هم نه ګڼل کېده. له بلې خوا، کبير خان د کرکټ


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

روزونکي په توګه ښه تاريخ هم نه لري شايد د افغانستان له لوبډلې مخکې يې ښه دنده د اماراتو کرکټ لوبډلې روزنه وي.

افغانستان کرکټ لوبډله اوس نړۍ واله لوبډله ده او بايد ښه روزونکی، چې نړۍواله تجربه او خپله هم د کرکټ ښه لوبغاړی وي، اړتيا لري. زما په اند افغانستان داسې روزنکي ته، چې يو توپ وهونکی يا بېټسمن وي ډېره اړتيا لري. اوسمهال ډېر شمېر تکړه لوبغاړي شته، چې په خپله هم ښه توپ وهونکي، وېکټ ساتونکي او هم ښه فيلډران دي، چې افغانستان کرکټ بورډ کولای شي له هغوی څخه کار واخلي. له بده مرغه خپله افغانستان هم په يادو برخو کې ډېرې ستونزې لري، که چېرې داسې څوک پيدا شي، دا به د افغانستان کرکټ او د کرکټ راتلونکي لپاره به ډېره اغيزمنه وي. افغانستان کرېکټ بورډ بايد داسې کس ته دنده ورنه کړي، چې يوازې د سياليو پر مهال د لوبډلې روزونکی وي، روزونکی بايد لېږ تر لېږه په خپله هېواد کې شتون ولري؛ څو وکړای شي ملي لوبډلې او را تلونکې ته ښه ځوانان او تنکي ځوانان پيدا کړي او تر څنګ يې خپله کرکټ بورډ ته سلا هم ورکړي، چې څرنګه کرکټ کولای شي، وده او پراخيتا ورکړي.

له بلې خوا اوسمهال موږ په کرکټ لوبډلې کې هم ځينو اصلاحاتو ته اړتيا لرو، که چېرې پلې نشي څو کاله وروسته به مو کرکټ له ستر ناورين سره مخ شي. په سر کې فکر کوم افغانستان کرکټ لوبډله بايد په يو ورځنيو او شل اوريزو سياليو کې نوي لوبډلمشران (کپتان) وټاکي او د ملي ټيم اوسنی کپتان نوروز منګل دې بايد نورو لوبغاړو، لکه محمد نبي يا هم شهزاد محمدي په څېر کسانو ته وخت ورکړي؛ څو په راتلونکي کې وکړای شي د لوبډلې کپتان شي، خپله نوروز منګل بايد په ټيسټ سياليو کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې کپتان وي.

لوبغاړو کې هم بايد اصلاحات راشي اوسمهال موږ سم اوپنران يا د لوبې پيل لوبغاړي نه لرو، د پيل لوبغاړي بايد داسې کسان وي چې وکړای شي تر يوې مودې لپاره په ميدان کې پاتې شي چې له بده مرغه اوسمهال دا نه ترسترګو کيږي. اوسمهال کله کريم صادق له شهزاد سره او يا هم نورز منګل له شهزاد سره را دننه کيږي او يا هم هرې لوبې ته په کتو سره اوپنراهم بدليږي او را بدليږي، چې دا کار هم له علمي کرکټ سره سر نه لګوي.

بل دا چې د ټيسټ، يو ورځينو او شل اوريزو سياليو لپاره بايد لوبغاړي وټاکل شي، له بده مرغه ډېر کلونه کيږي چې موږ په ټيسټ، يو ورځنيو لوبو، او شل اوريزو لوبو لپاره يوه لوبډله لرو، چې دا خپله هم ستونزې زېږي، لوبډله بايد د لوبې له ډول سره وټاکل شي، که چېرې ځير شو، نوروز منګل، ګلبدين نايب، اصغر ستانکزی، کريم صادق او نور علي ځدران هم په ټيسټ، يو ورځنيو، او هم شل اوريزو لوبو کې لوبيږي، چې زما په اند په يادو لوبغاړو کې ځينې توپيرونه شتون لري، له دوی څخه نوروز منګل او ګلبدين نايب په بشپړه توګه توپير لري، ګلبدين نايب، چې دواړه هم بېټسمن او هم باولر دي کولای شي په شل اوريزو او يو ورځينو لوبو کې اغيزمن وي؛ خو زه فکر نه کوم چې هغه دې وکړاي شي په ټيست سياليو کې وځليږي همدارنګه نوروز منګل، چې تر ډېره بريده يو ورځنيو او ټيسټ سياليو لپاره ښه لوبغاړی دی، په شل اوريزو لوبو کې دومره ښه نه دی ځلېدلی. دا توپير د نړۍ په مشهورو ټيمونو کې هم شتون لري، لکه په انګلستان کې الېستر کوک چې د يو ورځنيو سياليو کپتان او په تيسټ سياليو کې لوبيږي؛ اما په شل اوريزو لوبو کې شتون نه لري.

له بده مرغه افغانستان کرکټ لوبډله هم په نړۍواله سطحه او هم په ډېره ټيټه کچه سياليو کې، يوه لوبډله ميدان ته ليږي، چې دا هم د راتلونکي کرکټ لپاره ښه کړنه نه ده. که چېرې ځير شو افغانستان هم له استرليا، هندوستان او پاکستان ټيم سره خپله اوسنۍ لوبډله ميدان ته ولېږله هم وړو ټيمونو، لکه نيپال، بوتان او داسې نورو لوبډلو سره، دلته بايد لوبډله او کپتان سره توپير ولري او له وړو لوبډلو سره بايد تر ډېر بريده ځوانانو ته چانس ورکړل شي چې وکړای راتلونکي لپاره چمتو شي.

له بلې خوا، کرکټ بورډ هم په دې هڅې کې دی، چې د نړۍ له مشهورو ټيمونو سره لوبې وکړي، زه فکر نه کوم چې يوه لوبډله دې وکړای شي له يو څو لوبو سره پياوړې شي، افغانستان کرکټ بورډ بايد ددې پر ځای چې د نړۍ له مشهورو ټيمونو سره يو ورځنۍ لوبې واخلي دا به ښه وي چې د يادو ټيمونو له اې لوبډلو سره د لوبې لپاره لاره هواره کړي. دا څو ګټې لري، له يوې خوا د نړۍ مشهورو هېوادونو، لکه استرليا، انګلستان، سويلي افريقا او


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هندوستان اې لوبډلي د افغانستان تر ملي لوبډلي پیاوړي دي او په یادو ټیمونو کې هم د ملي لوبډلي لوبغاړي شته، دا به له افغانستان سره مرسته وکړي؛ څو لومړی درجه کرکټ وکړي، که چېرې وګورو، افغانستان کرکټ لوبډلي ونشو کړای د پاکستان اې لوبډلي ته ماته ورکړي او له پاکستان څخه یې په درې واړه لوبو کې ماتې وخوړه، دا ددې څرګندونه کوي چې افغانستان کرکټ لا ډېر کار ته اړتیا لري. له بلې خوا زه فکر کوم دا به د افغانستان کرکټ بورډ او یادو ټیمونو لپاره هم آسانه وي، چې سره هوکړې ته ورسېږي.

له یادو کړنو سره، افغانستان کرکټ بورډ باید په کرکټ کې ریښتونی ووسي، هغه دا چې، له ۱۹ کلنو څخه لېږ عمره لوبډله کې هغه کسان ور ګډ کړي، چې ریښتیا هم له ۱۹ کلنو څخه یې عمرونه لېږ وي. د سږ کال د ۱۹ کلنو نړیوالو سیالیو کې له یو څو لوبغاړو څخه پرته، افغانستان کرکټ بورډ هغه لوبډله لېږلې وه، چې ۴ کاله مخکې یې لیږه هم نیوزیلند سیالیو ته لېږلې وه. زه په زغرده ویلی شم، چې ډېر لوبغاړي، له هغې ډلې نور الحق ملکزی، افتاب عالم، یمن احمدزی، جاوید احمدي او ځینې نور لوبغاړي له ۱۹ کلنو څخه لېږ عمرونه نه لري، دا په دې مانا نه ده چې زه له دوی سره کومه دښمني لرم، دا ددې لپاره وایم، که چېرې کومې لوبډلې شکایت کړی وای او نړیوال کرکټ شورا هم څېړنې ترسره کړې وای، دا به هم کرکټ بورډ او هم یادو لوبغاړو په زیان پای ته رسېدلې وای، شاید حتا د ډېرو کلنو لپاره افغانستان کرکټ لوبډله له سیالیو څخه بې برخې شوې وای. ددې لپاره څرنګه امکان لري یوه لوبډله هم ۴ کاله مخکې له ۱۹ کلنو څخه لېږ عمر ولري او یاد لوبغاړي لا تر اوسه له ۱۹ کلنو څخه لېږ عمرونه ولري. دا ددې مانا ورکوي، چې ۴ کاله مخکې افغانستان د ۱۹ کلنو نړیوالې سیالی ته د ۱۵ کلنو ځوانان لوبډله لېږلې وه، چې نه زه او نه تاسې داسې فکر کوئ.

له دې سره سم هېواد ولایتي سیالیو کې هم، ډېر داسې ځوانان شته، چې د ځینو ولایتونو په لوبډلو کې لوبېږي، چې حتا هغه ولایتونو ته ندي تللي او هغه ولایتونو پورې اړوند هم نه دي، چې له بده مرغه کرکټ بورډ هم دا کړنو ته لاره هواره وي. دا کړنې نه یوازې کرکټ پرمختیا لپاره ښې دي؛ بلکې په زیان دی. ددې لپاره چې کرکټ بورد په ریښتوني توګه هڅه نه ده کړي او یاد ټکو د مخنیوي لپاره لاس په کار شوی دی؛ څو له داسې بې نظمۍڅخه مخنیوی وکړي.

له یادو خبرونو سره سره افغانستان کرکټ بورډ باید راتلونکو نړۍ والو سیالیو لپاره ځینو ځوانانو لکه ګلبدین نایب، نجیب ځدران، جاوید احمدي، آفتاب عالم، دولت احمدزی، شبیر نوري، افسر خان، محب الله، حشمت الله شهیدي او ځینو نور لوبغاړو باندې ډېر کار وکړي په ځانګړي توګه له آفتاب عالم پرته نورو لوبغاړو باندې د توپ وهنې په برخې کې ډېر کار وکړي، چې لیږ تر لیږه وکړای شي ښه کرکټ وکړي.

که چېرې هغه برخې چې پورته ورته نغوتې وشوې عملي شي دا به نه یوازې د افغانستان کرکټ اوسنې لوبډلې لپاره؛ بلکې په نړۍ واله کچه د افغانستان د کرکټ را تلونکي لپاره ډېره اغیزمنه وي، د هغې ورځې په هیله!

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ